مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۷** (از ۹ الی ۱٦ حوت ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

**تحولات سال 1393 و تاثیر آن بر سال جدید**

- مشکلات سیاسی ........ ۳
- قرارداد امنیتی با امریکا ........ ۴
- تغییر در سیاست خارجی ........ ۴
- برنامهٔ صلح ........ ٦
- سال 1394 ........ ٦

**د اوبو مدیریت؛ ستونزې او د برېښنا ظرفیت**

- د افغانستان د اوبو حوزې ........ ۸
- راتلونکی نړیوال سیاست او د اوبو پر سر اختلافات ........ ۱۰
- له ګاونډيو هېوادونو سره د اوبو تړونونه ........ ۱۰
- د اوبو بندونه؛ ګټې او اړتیاوې ........ ۱۱
- په افغانستان کې د برېښنا ظرفیت ........ ۱۲
- د برېښنا اوسنی حالت ........ ۱۳
- وړاندیزونه ........ ۱۳

## مقدمه

افغانستان په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د بېلابېلو تحولاتو شاهد و. په دې کال کې حکومت له ناندریو او درغلیو ډکو ټاکنو وروسته بدل شو او سملاسي يې د ۱۳۹۲ کال جنجالي موضوع، چې له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک کول وو، په یوه ورځ کې حل کړه. همدا راز دا کال ځکه هم ډېر مهم و، چې په دې کال کې په افغانستان کې د ناټو ۱۳ کلن پوځي ماموریت په رسمي ډول پای ته ورسېد.

په ۱۳۹۳ کال کې د جنجالي ټاکنو او د ملي وحدت په نوم حکومت جوړېدو او له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک ترڅنگ، له پاکستان سره د نوي حکومت نږدې کېدل او د سولې لپاره وروستۍ هلې ځلې هم د هېواد په خارجي سیاست کې مهم بدلونونه وو.

د تېر کال تحولات او سیاسي بدلونونه به د راتلونکي کال پر سیاستونو او پرېکړو او په ټولیز ډول د هېواد پر وضعیت څه اغېز وښندي؟ همدا راز د راتلونکي کال په تړاو څه اندېښنې او هیلې شته دي؟

له بله پلوه، له تېرو څو ورځو راهیسې په سالنگ کې د برېښنا د مزو له پرې کېدو سره، د پلازمېنې کابل برېښنا پرې شوې او د شپږ میلیونو وگړو د ستونزو ترڅنگ، د یو زیات شمېر فابریکو کار هم په ټپه درېدلی دی. دا ستونزه په تېره څه باندې یوه لسیزه کې له پراخو لگښتونو سره سره، په بنسټیز ډول هواره نه شوه، چې په حقیقت کې د افغانستان د اوبو له ناسم مدیریت څخه سرچینه اخلي.

افغانستان د اوبو د مدیریت په برخه کې څه ستونزې لري؟ او په ټولیز ډول افغانستان د څومره برېښنا د تولید ظرفیت لري؟ د دې اوونۍ په تحلیل کې د همدغو موضوعاتو په اړه، د ستراتېژيکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانگې شننې لولئ.

# تحولات سال ۱۳۹۳ و تاثیر آن بر سال جدید



در آخرین روزهای سال ۱۳۹۳ هجری شمسی، جای آن دارد تا تاثیرات تحولات سیاسی و نظامی سالی را که گذشت، بر تحولات احتمالی سال بعد به ارزیابی بگیریم زیرا به صورت طبیعی رخدادهای سال ۱۳۹۳ تاثیرگذار بر جریانات سال بعد خواهد بود.

## مشکلات سیاسی:

در سال ۱۳۹۳ افغانستان شاهد انتخابات ریاست جمهوری بود. این انتخابات به دنبال ماه‌ها شایعات مبنی بر اینکه رئیس جمهور کرزی قصد کناره‌گیری از قدرت را ندارد، صورت گرفت. همزمان با این انتخابات، رسانه‌های دولتی و خصوصی و نهادهای جامعهٔ مدنی به شکل سازمان‌یافته به تمجید از آن پرداختند و از حضور بی‌سابقهٔ مردم به خصوص زنان سخن گفتند. تلاش این بود تا تقلب گسترده‌ای که در این انتخابات صورت گرفت، در پردهٔ تبلیغات پنهان گردد. ناظران بین‌المللی نیز در تلاش مشابه، سعی کردند تا تقلب گسترده را زیاد جدی نگیرند.

انتخابات در دور اول به نتیجه نرسید و در دور دوم نیز تیم انتخاباتی داکتر عبدالله با ارائهٔ اسناد و مدارک، طرفداران اشرف غنی را به تقلب گسترده متهم کرد. کار به مداخلهٔ جامعهٔ جهانی کشید، اما حتی بازشماری صد در صدی آرای ریخته شده به صندوق‌ها نیز گره‌کشای مشکل نشد و ناچار در نتیجهٔ فشار امریکا، تصمیم گرفته شد که در انتخابات دور دوم هیچکدام از دو کاندیدا شکست خورده یا پیروز به شمار نیایند و برهمین بنیاد، حکومتی بنام وحدت ملی شکل گرفت.

ساختن حکومت مشترک میان دو تیمی که در جریان انتخابات همدیگر را به تقلب متهم کرده بودند، کار ساده نبود و به همین دلیل نیز بعد از گذشت بیش از ۱۵۰ روز از عمر حکومت وحدت ملی، هنوز کابینه تکمیل نشده و اختلافات پابرجاست.

## قرارداد امنیتی با امریکا:

هرچند کار این قرارداد در دوران حامدکرزی نهایی شد و حتی لویه جرگهٔ مشورتی هم به فرمان وی دایر گردید تا به نفع امضای این پیمان رای دهد، اما بعدتر او از امضای قرارداد اباء ورزید. اشرف غنی روز بعد از حلف وفاداری به عنوان رئیس جمهور، این قرارداد را امضا کرد تا کمک جهانی به جنگ افغانستان ادامه یابد و اینکه ماموریت نظامی ناتو در افغانستان رسماً به پایان رسید، در چارچوب این قرارداد شماری از نظامیان خارجی در افغانستان باقی خواهند ماند.

هرچند اشرف غنی گفته بود که صلح با مخالفین مسلح برای وی بیش از همه چیز اهمیت دارد، اما با امضای این قرارداد، امکان رسیدن به تفاهم با طالبان را که اولین خواست شان خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان است، مواجه به ابهام ساخت.

## تغییر در سیاست خارجی:

هرچند در دوران ریاست جمهوری حامد کرزی، افغانستان فاقد یک سیاست خارجی مدون بود و به نظر می‌رسید که سیاست خارجی وی را شرایط روز تعیین می‌نماید اما افغانستان در دوران کرزی، رابطهٔ نزدیکی با هندوستان برقرار کرد. نقش هند به عنوان یکی از کمک دهنده‌های اصلی به افغانستان، موجب نگرانی پاکستان شد.

اما اشرف غنی با سیاست دور شدن از هند، موجب شد تا پاکستان نیز قدم‌هایی به منظور نزدیک شدن با کابل بردارد. رسانه‌های پاکستان این تغییر را بزرگ و بی‌سابقه خواندند، به حدی که در طول سیزده سال گذشته هیچ‌گاه دو کشور این‌گونه با هم نزدیک نشده بودند.

برعکس، این تغییر سیاست افغانستان در هندوستان به عنوان یک شکست تلقی شد. "دهلی پالیسی گروپ"[1] در راپوری تحت عنوان (هند چه انتظاری از حکومت وحدت ملی افغانستان می تواند داشته باشد)[2] نگرانی‌های هندوستان از تغییر در سیاست خارجی افغانستان را چنین برمی‌شمارد:[3]

1. «نخست از همه اینکه رئیس جمهور غنی به "اجیت دوول" مشاور امنیت ملی هندوستان گفته است که افغانستان بعد از این خواهان کمک نظامی از هندوستان نیست.
2. دوم اینکه او امتیازات بسیاری به پاکستان داده است.
3. سوم اینکه به درخواست وی، پاکستان میزبان کنفرانس وزرای کشورهای قلب آسیا، به جای هندوستان خواهد بود.
4. و چهارم اینکه کشورهای افغانستان، چین و ایالات متحدهٔ امریکا به این نتیجه رسیده‌اند که پاکستان هیچ‌گاه به هندوستان اجازهٔ ترانزیت از خاک خود را نخواهد داد.»

با توجه به این نگرانی هندوستان می‌توان گفت برعکس آنچه که مقامات دولت وحدت ملی مدعی اند که در سیاست خارجی خویش به صورت مستقلانه عمل می‌کنند و اصل تعادل میان کشورها را رعایت می‌نمایند، لااقل در قبال دو کشور هند و پاکستان، وزنه به نفع پاکستان سنگینی می‌کند.

---

[1] Delhi Policy Group

[2] Afghanistan's National Unity Government: What can India expect?

[3] See online:
www.delhipolicygroup.com
"First of all, President Ghani told Indian National Security Advisor Ajit Doval that Afghanistan would no longer seek Indian military aid. Second, he made a series of hugely concessional offers to Pakistan. Third, Pakistan will host the next Heart of Asia Ministerial instead of India. Fourth, Afghanistan, China and the U.S. now appear to accept that Pakistan will never allow transit trade to India through its territory."

## برنامهٔ صلح:

هدف از تغییر سیاست خارجی در رابطه با پاکستان که در سال ۱۳۹۳ توسط حکومت وحدت ملی روی دست گرفته شد، جلب حمایت پاکستان در جهت کمک به پروسهٔ صلح در افغانستان است. به نظر می‌رسد که این تغییر در سیاست، ناشی از این توجیه باشد که افغانستان اگر به صلح نرسد، به هیچ جا نخواهد رسید.

شاید اشرف غنی نزد خود این محاسبه را دارد که نفع حاصله از کمک هندوستان، به مراتب کمتر از ضرری است که افغانستان از ناامنی‌ها تحمل می‌نماید. فساد و بسیاری از نابسامانی‌های دیگر در افغانستان با جنگ رابطهٔ ناگسستنی دارد.

بیشترین امید در افغانستان به عاید حاصله از معادن وابسته است، اما چپاول معادن افغانستان در نقاط مختلف کشور به دلیل ناامنی‌ها به حدی است که اکنون طالبان هم کمیسیونی به نام معادن ایجاد کرده‌اند که وظیفهٔ این کمیسیون، دادن قرارداد معادن به کمپنی‌ها و افراد است. به این ترتیب، بخشی از عواید جنگ آن‌ها از این طریق به دست می‌آید.

## سال ۱۳۹٤:

افغانستان درین سال انتخابات پارلمانی را در پیش دارد، اما در نخست باید در ذهنیت مردم که از انتخابات دوره‌های گذشته خاطرهٔ خوش ندارند، تغییر ایجاد گردد. این تغییر جز با اصلاحات بنیادی در کمیسیون‌های انتخابات و شکایات انتخاباتی ممکن نیست. اختلاف بر سر توزیع تذکرهٔ الکترونیکی مشکل دیگری است که اگر حل نگردد، انتخابات را به چالش خطرناک‌تری مواجه خواهد ساخت.

دولت وحدت ملی با امضای قرارداد امنیتی با امریکا به این امید بود که جامعهٔ جهانی به دولت افغانستان در جهت تامین نیازهای بودجوی اش کمک نماید، اما در این رابطه نگرانی بزرگ جامعهٔ جهانی از فساد در دستگاه حکومت کابل است. از طرف دیگر جامعهٔ جهانی امروز در شرایط سال ۲۰۰۱ نیست و افغانستان دیگر در اولویت آن‌ها قرار ندارد. بزرگ‌نمایی در مورد حضور گروه داعش در افغانستان قبل از کنفرانس اخیر مونیخ نیز نتوانست جامعهٔ جهانی را به کمک بیشتر به افغانستان ترغیب نماید. بنابراین نباید در سال جدید انتظار بهبود وضع اقتصادی را در افغانستان داشت.

در عرصهٔ روابط خارجی روابط با امریکا در مقایسه با دوران رئیس جمهور سابق بهبود یافته است، اما اشرف غنی با توجه به شناختی که از امریکا دارد می‌داند که وی نباید انتظار چک سفید از خارج را آنگونه که در دوران حامد کرزی شاهدش بودیم، داشته باشد. پس او مجبور است تا توجه را به منابع داخلی معطوف سازد و این کار نیز بدون تامین صلح ناممکن است. موضوع صلح با مخالفین دولت همچنان در حد شایعات رسانه‌ای مطرح است و طالبان تاکنون این شایعات را تلاش‌های استخباراتی به منظور ایجاد بی‌اعتمادی در صف طالبان خوانده‌اند.

به صورت کلی می‌توان گفت که حکومت جدید افغانستان نه تنها خود را از شر میراث حامدکرزی رها نکرده، بلکه به مشکلی مواجه است که ناشی از همان دوران است. حکومتی که هرچند تلاش دارد خود را یک پارچه نشان دهد، اما امروز کمتر کسی به یک پارچگی آن باور دارد. میکانیزم این حکومت نیز طوری عیار شده که خودش چوب لای چرخ خود می‌گذارد و برای اثبات زمینگیر بودنش، تاخیر در اعلام کامل کابینه کافیست.

با این تفصیل می‌توان نتیجه گرفت که پیروزی ویا شکست حکومت وحدت ملی در سال ۱۳۹۴ به شدت وابسته به پروسهٔ صلح است که خواهد توانست تمام ضعف‌هایش را بپوشاند. پروسه‌ای که هنوز مشخص نیست چگونه آغاز خواهد شد و به کجا خواهد رسید.

## د اوبو مدیریت؛ ستونزې او د برېښنا ظرفیت



په تېره څه باندې یوه لسیزه کې د ټول افغانستان په کچه پر برېښنایي زېربناوو له څلور ملیارده ډالرو زیات لګښت شوی[4]؛ خو لا هم هېواد د برېښنا له کمښت سره مخ دی او د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره بنسټیز کار نه دی شوی. همدا لامل دی چې په دې وروستیو کې په سالنګ کې د برېښنا د مزو له شلېدو سره، پلازمېنه کابل د څو اوونیو لپاره تیاره شو.

دا په داسې حال کې دي، چې افغانستان د خپلې برېښنا د تولیدولو لپاره په ډېرو سیمو کې د برېښنا د بندونو جوړولو ورټیا او له خپلې اړتیا څخه د زیاتې برېښنا د تولید ظرفیت لري؛ خو دا مهال یې زیاتره اوبه ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي او د برېښنا ترڅنګ د کرنې او زراعت لپاره هم کار نه شي ترې اخېستل کېدای.

### د افغانستان د اوبو حوزې:

د افغانستان اوبه په لاندې پېنځو حوزو کې بهېږي:

1. د آمو سیند؛
2. د هلمند سیند؛

---

[4] See online:

https://www.afghanistan-analysts.org/power-to-the-people-how-to-extend-afghans-access-to-electricity/

3. د کابل سیند؛
4. د هریرود-مرغاب حوزه؛
5. او د شمال حوزه.

افغانستان چې یو غرنی او په وچه کې راګیر هېواد دی، له خپلو شپږو ګاونډیانو څخه له پنځو سره یې د اوبو له پلوه اشتراکات لري. له تاجکستان سره د آمو دریا حوزې پر مټ، چې بیا وروسته دغه اوبه ازبکستان او ترکمنستان ته هم ځي. له ترکمنستان او ایران سره د هریرود-مرغاب حوزې پر مټ، له ایران سره د هلمند سیند حوزې او له پاکستان سره د کابل سیند د حوزې پر مټ نښتي دي.

په لاندې نقشه کې د افغانستان د اوبو حوزې او له ګاونډیانو سره یې له دې پلوه اړیکې کتلی شئ:



## راتلونکی نړیوال سیاست او د اوبو پر سر اختلافات:

اوبه په نړیوال سیاست کې هم د همکارۍ سرچینه ده او هم د اختلافاتو او دښمنۍ. همدا لامل دی چې په نړۍ کې د خوراک او انرژۍ د امنیت ترڅنګ، د اوبو د امنیت خوندي کول هم د بهرني سیاست مهمه برخه ګڼل کېږي.

افغانستان چې د سوېلي آسیا او منځنۍ آسیا ترمنځ پروت هېواد دی، د نړۍ د هرې بلې سیمې په پرتله دلته- په راتلونکي کې- د اوبو پر سر د شخړو زیاته شونتیا لیدل کېږي. په دې سیمه کې د منځنۍ آسیا د هېوادونو ترمنځ د اوبو پر سر شخړې، د افغانستان او منځنۍ آسیا د هېوادونو او په تېره بیا له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د اوبو پر سر شخړې، له ایران او پاکستان سره د اوبو پر سر شخړې او همدا راز د هند او پاکستان ترمنځ د اوبو او بندونو پر سر د شخړو زیاته شونتیا شته ده.

## له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو تړونونه:

افغانستان تراوسه له خپل یوه ګاونډي هېواد سره د اوبو د وېشنې تړون لاسلیک کړی، چې دا تړون له ایران سره د هلمند سیند تړون دی او د موسی شفیق د صدرات پرمهال د ایران له پهلوي بادشاهۍ سره لاسلیک شو.

دا چې افغانستان له ایران پرته له خپلو نورو ګاونډیانو سره د اوبو د وېش پر سر تړونونه نه لري، ښايي په راتلونکي کې به افغانستان له ډېرو ستونزو او ګواښونو سره مخ کړي؛ ځکه هر کله چې افغانستان پر دغو سیندونو د بندونو جوړولو تابیا کوي، د ګاونډیو هېوادونو له تاوده غبرګون سره به مخ کېږي[5]. خو که چېرې افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د ویش تړونونه لاسلیک کړي، نو اوبه به د دغو هېوادونو ترمنځ د کړکیچ لامل نه، بلکې د همکارۍ لامل شي.

[5] په دې اړه ایران د سلما بند او پاکستان د کونړ بند په اړه وخت ناوخت غبرګونونه ښودلي دي.

## د اوبو بندونه؛ ګټې او اړتیاوې:

ویل کېږي چې افغانستان له ۲۲ زره مېګاواټو څخه د زیاتې برېښنا د تولید وړتیا لري، چې له دې جملې څخه یوازې د کونړ پر سیند له ۱۰۰۰ مېګاواټو څخه زیات برېښنا تولیدوونکی بند جوړېدلی شي. په هېواد کې دننه د اوبو د بندونو له جوړولو سره که له یوې خوا افغانستان د برېښنا له واردولو څخه خلاصېدلی شي؛ نو له بلې خوا د خپلو وړتیاوو په پرتله لږې برېښنا ته اړتیا لري او پر ګاونډیو هېوادونو هم، لکه پاکستان چې د انرژۍ له کمښت سره مخ دی، خپله برېښنا پلورلی شي. په دې توګه افغانستان په زرمبادله کې ډېرې پیسې لاسته راوړلی شي او پر تجارت او اقتصاد هم مثبت اغېز ښندلی شي.

همدا راز به د بندونو له جوړولو سره پراخې ځمکې چې اوسمهال له همدې امله شاړې پرتې دي، خړوبې شي او د خپلو زراعتي پیداوارو د زیاتولو ترڅنګ به د خلکو پر اقتصادي وضعیت هم مثبت اغېز وښندي؛ ځکه تقریباً نیم افغانستان له زراعت او کرنې سره نېغ تړاو لري.

د طبیعي آفاتو په اړه هم د اوبو دغه بندونه، په ډېری سیمو کې د سېلابونو د راوتلو مخنیوی کوي او د پراخو ځاني او مالي زیانونو د مخنیوي لامل کېږي.

## په افغانستان کې د برېښنا ظرفیت:

په افغانستان کې د برېښنا ظرفیت ډېر لوړ دی او تقریباً له ۲۲ ګېګاواټو څخه زیاته برېښنا تولیدولی شي. په دې اړه دلته یوازې د کابل سیند حوزې ظرفیت رااخلو، چې دغه سیند د برېښنا جوړولو څومره ظرفیت لري.

څېړنې جوتوي، چې د کابل پر سیند لاندې بندونه د ټاکل شوي مقدار په توګه برېښنا تولیدولی شي:

| د بند نوم | ظرفیت (مېګاواټه) | لګښت (ملیون ډالره) | د جوړېدو وخت |
|---|---|---|---|
| د باغدرې برېښنا بند | ۲۲۵ | ۸۰۰ | له شپږو څخه تر اتو کلونو پورې |
| د ګلبهار برېښنا بند | ۱۲۰ | ۵۰۰ | - |
| د دویم سروبي برېښنا بند | - | ۴۲۰ | پنځه کاله |
| د کونړ برېښنا بندونه:<br>کونړ الف (شال)<br>خاګې بند | <br>۷۹۷<br>۳۰۰ | ۲۲۰۰ | له اتو څخه تر لسو کلونو پورې |
| د کامې بند | ۴۵ | - | - |
| د ګامبیرې بند | ۴۰ | - | - |

د لازیاتو معلوماتو لپاره ولولئ: په بي بي سي پښتو وېبپاڼه کې د انجینر محسن امین مقاله[6]

[6] see online:

http://www.bbc.co.uk/pashto/interactivity/2015/01/150123_afghanistan-water-elec

## د برېښنا اوسنی حالت:

د افغانستان د برېښنا اوسنی وضعیت د ډېر تأمل وړ دی؛ ځکه د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت په وینا، افغانستان اوسمهال هر کال ۳۰۰۰ مېګاواټه برېښنا ته اړتیا لري، چې یوازې ٦ سلنه یې په هېواد کې دننه تولیدېږي او همدا راز نوره برېښنا له ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او ایران څخه واردېږي. افغانستان تر ټولو زیاته برېښنا له ازبکستان څخه واردوي (چې ۵۵ سلنه کېږي) او همدارنګه له ایران څخه (۲۲ سلنه)، له تاجکستان څخه (۷ سلنه) او له ترکمنستان څخه (١٦ سلنه) برېښنا واردوي.[7]

دا چې افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه زیاته برېښنا واردوي، نو د افغانستان پر مجموعي تجارت یې ډېره بده اغېزه کړې ده. په دې برخه کې دا مهال افغانستان خپل ډېری لګښتونه د همدغې برېښنا پر واردولو مصرفوي.

په پلازمېنه کابل کې له شپږو ملیونو څخه زیات وګړي اوسېږي، چې د افغانستان د مجموعي نفوس تقریباً شل سلنه جوړوي. د دې ترڅنګ د هېواد په کچه په کابل کې د فابریکو او صنعت کچه هم زیاته ده.

دا مهال په کابل ولایت کې د بریښنا تقاضا ۵۳۰ مېګاواټه ده، چې له ۲٦۰ مېګاواټو څخه زیاته برېښنا یې له بیرونه، په تېره بیا په ژمي کې له ازبکستانه د سالنګ له لارې کابل ته راځي او دا هغه برېښنا ده، چې په ډېره آسانۍ سره د طبیعي پېښو او نورو ستونزو له کبله پر کابل قطع کېدای شي.

## وړاندیزونه:

- له ګاونډیو هېوادونو او په تېره بیا له پاکستان سره باید د اوبو د وېش تړونونه لاسلیک شي، ځکه چین د کونړ پر سیند د بند جوړولو لپاره چمتووالی ښودلی او له همدې ځایه به د اوبو د وېش ستونزه راپورته کېږي.

---

[7] وګورئ د افغانستان د برېښنا د معلوماتو مرکز وېبپاڼه:

http://www.afghaneic.com/Data/Afghan%20Electricity%20Imports%20by%20Source/Afghanistan%20Electricity%20import%20by%20Source--2011.pdf

- اوبه، چې د هېوادونو ترمنځ هم د همکارۍ منبع ده او هم د دښمنۍ، باید هڅه وشي چې د دوو هېوادونو ترمنځ دغه موضوع په همکارۍ بدله شي.
- هر کال چې څومره اوبه د افغانستان له خاورې ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي، کچه يې معلومه کړای شي او په دې رابطه په سستماتيک ډول له يو بل سره ارقام تبادله کړای شي.
- له ګاونډيو هېوادونو سره د اوبو د وېش پر سر په تړونونو کې باید د ګاونډيو هېوادونو له حق څخه د اضافي اوبو په تړاو له دوی څخه پيسې وغوښتل شي.
- له ګاونډيو هېوادونو سره باید په تخنيکي توګه د معلوماتو په تبادله کولو کې، د اوبو د جريان نظارت او د اوبو په مديريت او په پلان جوړونه کې له يو بل سره همکاري وشي.
- په افغانستان کې باید د اوبو مديريت اغېزمن کړای شي. ترڅو نه يوازې دا چې د کښت وړ ځمکې شاړې پاتې نه وي، بلکې نورې شاړې ځمکې هم د کښت وړ وګرځي.
- حکومت باید په بېلابېلو سيمو کې د بندونو جوړولو او د برېښنا د فابريکو فعالولو ته زياته پاملرنه وکړي، چې دا چاره به د برېښنا د اوسنيو ستونزو د له منځه تللو ترڅنګ، پر اقتصاد او تجارت هم مثبت اغېز وکړي.
- حکومت باید خصوصي سکتور وهڅوي، چې د برېښنا او اوبو په برخه کې پانګونه وکړي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)